ديدبان شفافيت افغانستان
INTEGRITY WATCH AFGHANISTAN

# مطبوعاتي اعلاميه

**فساد د افغانستان دويمه لويه ستونزه ده**

## په تيرو څلورو کلونو کې رشوت نږدې ۲ برابره شوی او په کلني ډول ۲ ميليارد ډالرو ته رسيدلی دی

## خدماتو ته لاس رسی ښه شوی، خو د ترلاسه کولو په وړاندې يې خلک د رشوت ورکولو ته مجبوره کيږي

**چهارشنبه، غبرګولی ۷، کال ۱۳۹۳ – کابل:** د افغانستان دروښتيا دڅاراداري نن د فساد ملي سروې خپره کړه ، چې په افغانستان کې د فساد زياتوالی ښيي. دغه سروې چې هر ۲ کاله وروسته خپريږي ښيي،چې له نا امنی وروسته فساد د افغانانو دويمه لويه انديښنه شميرل کيږي .دغه پلټنه په ډاګه کوي، چې د نـاامنی او فساد ترمنځ قوي اړيکه شتون لري. رشوت چې د فساد معمول ډول دی ،په تيرو ۴ کلونو کې ۲ برابره شوی اود ورکړې کچه يې په کلني ډول ۲ ميليارد ډالرو ته رسيږي .په دغه سروې کې عدلی او قضايی سکتور او پوليس ترټولوډير په فساد کې ښکيل بنستونه په ګوته شويدي،په داسې حال کې چې د پوهنې وزارت دريم ځای ته را لوړ شويدی .په ټوله کې خدماتو ته د خلکو لاس رسی ښه شوی ،خو ددغه هيواد خلک بايد د خدماتو د ترلاسه کولو په برخه کې لا هم بايد رشوت ورکړي .سروې موندلې چې د فساد مالي پيټی په کورنيو دروند(زيات) شويدی.

**فساد په لويه کچه بنسټيز شويدی او دا باور زيات شوی، چې د رشوت په ورکړې سره کارونه ترسره کيږي .**

۳۴ په سلو کې هغو ځواب ورکونکو ،چې کورنيو يې رشوت ورکړی ويلې ،دوی په دې کلک باور درلود چې د رشوت ورکړه بـه د خدماتوپـه ترلاسـه کولـو کـې لـه دوی سـره مرسـته وکـړي .د افغانسـتان د روښتيـا د څـار اداری مشر ډاکتريماترابي، لـه رسنيو سره په خبرو کې وويل:« که دا بـاور پياوړی وي ،چـې د رشوت ورکړه يا فساد د خدماتو ترلاسه کول حتمي کوي نو دا په افغانستان کې د فساد د بنسټيز کيدو نښه ده.»

**فساد د افغانانو په دويمي لويي انديښني بدل شويدی.** دفساد په اړه د ۲۰۱۲ کال پـه سروې کـې (٪۵۹)ځواب ورکونکو ناامني،(٪۱۶)ځواب ورکونکو بې کاري،او ٪۱۳ ځواب ورکونکو فساد د افغانستان دري لويي ستونزې په ګوته کړې وې .خو د ۲۰۱۴ کال په سروې کې ۴۵ په سلو کې ځواب ورکونکو نـاامني او ورپسې ۱۸ په سلو کې خلکو فساد او همدومره نوروخلکو بيکاري د افغانستان ۳ لويي ستونزې بللې دي .

**رشوت چـې د فسـاد معمـول ډول دی، پـه تيـرو۴ کلونـو کـې نـږدې ۲ برابـره شـوی:** پـه ۲۰۱۴ کـال کـې پـه ټولـه کـې ۱۹۴۲ميليون ډالره په افغانستان کې رشوت کې ورکړل شويدي ، خو پـه ۲۰۱۲ کال کې د ټول رشوت اندازه ۱۲۵۴ ميليون ډالرو ته رسيده .د بالغو کسانو لخوا د رشوت د ورکړې اندازه له ۱،۶ ميليون ډالروڅخه نږدې ۲ ميليون ډالرو تـه رسيده،ياني په تيرو ۲ کلونو کې د رشوت په اړه دخلکو برخه اخيستل ٪۲۵ زيات شوی.

په داسې حال کې چې د رشوت د ورکړې منځنۍ کچه له ۱۹۰ډالرو څخه پـه ۲۰۱۴ کال کې ۲۴۰ ډالرو تـه لوړ شوی ،خو په کلني ډول د رشوت د ورکړې د وارونو(څلونو) منځنۍ کچې بدلون نه دی کړی.

**قضا او پوليس په هيواد کې ۳ ډيرې په فساد کې ښکيلې اداري بلل شويدي:** سره له دې، چې په دغو برخو کې يوڅه ښه والی راغلی، خود ۲۰۱۲ کال په څير محاکم او د کورنيو چارو وزارت لاهم په فساد د ډيرو اخته ادارو په توګه پاته

شویدي، ولې د کورنیوچاروپه وزارت کې ۳٪ فسادکم شویدی. بل پلو د پوهنې په وزارت کې فساد زیات شوی او په دې برخه له شاتګ سره دغه وزارت په فساد ککړو ادارو کې دریم لوی ځای نیولی دی ، په داسې حال کې چې په ۲۰۱۲ کال کې په اومه (۷ مه) درجه کې وو.

**قوم پالنه، شخصي او کورنۍ اړیکې یوځه مهمې شویدي :** حکومت ته د رسیدو او د دندې د ژغورنې او ترلاسه کولو په برخه کې دقومي ، کورنیو او نورو اړیکو د پاللواهمیت د ځواب ورکونکو په اند زیات شویدی او ځواب ورکونکوویلي چې ددې اړیکوپالل د دندې ساتلو لپاره مهم دي.

**په مجموع کې ،خدماتو ته د خلکو په لاس رسي کې ښه والی راغلی** .څه باندې ٪۹۰ ځواب ورکونکو ویلي،چې لږ ترلږه یوډول دولتي خدماتو ته یې لاس رسی درلود.د عامه خدماتو په برخه کې ترټولو ډیر لاس رسی لومړنیو او منځنیو زده کړو ته وو ورپسې د پولیسو لخواد امنیت ساتنې خدماتو ته لاس رسی موجود دی.خو له دې ټولو سره سره ځواب ورکونکو باید د مختلفوعامه دولتي خدماتو د ترلاسه کولو لپاره رشوت ورکړی وای، چې له کبله یې په کورنیو د فساد له اړخه مالي پیټی زیات شوی(په ۲۰۱۲ کال کې له ٪۵۲ څخه په ۲۰۱۴ کال کې ٪۵۷ ته لوړشویدی.)

# سپارښتنې

**د افغانستان د روڼتیا څار اداره (IWA) د سروې د موندنو او پلټنو پراساس ،لاندې سپارښتنې کوي :**

- له فساد سره د مبارزې په برخه کې معلوماتو ته لاس رسی، ډیر زیات مهم دی . دولت باید اطلاعاتو ته د لاسرسي یو قوي قانون تصویب کړي.
- دافغانستان د سیاسي ثبات لپاره دامنیت اهمیت او عدالت ، په قضایي سیستم ا و پولیسو کې دفساد د مخنیوي لپاره اړتیا ده چې دغه چاره د حکومت په لومړیتوبونو کې ځای پرځای شي
- حکومت باید د محکمو د بهیر د کتنې لپاره دمدني ټولنو ښکیلتیا ته اسانتیاوې برابرې کړي او مدني ټولنې باید په دې اړه مسوولانه کړنلاره غوره او منظمه برخه پکې واخلي .
- د اداري چارو او پروسیجرونو ساده کول او اغېزمن کول، د دولتي وسایلو او خدماتو د تر لاسه کولو او د جزوي رشوت د مخنیوي او کمیدو په برخه کې خورا مهم دي.
- د اداري کارونو د کړنلارو په ساده والي سربیره ،د بیروکراتیکو تګلارو په اړه خلکوته د معلوماتو ورکول، باید د رسنیو او د عامه پوهاوي د پروګرامونو له لارې زیات شي.
- حکومت باید په کلکه سره، دفساد دپېښودهغو رپوټونوپلټنه وکړي چې د خلکو لخوا ور کړل شویدي.پردې سربیره دې، له فساد سره د مبارزې او په دغه بهیر کې د عامو خلکو د ګډون لپاره فاسد چارواکي تر عدلي پلټنو لاندې ونیول شي او محکمې ته دې واستول شي .
- د دولتي کارکونکو شتمنۍ، په ځانګړې توګه د هغو کسانو شتمنۍ ثبت او نشر شي چې وظیفوي فساد کې ښکېل دي.
- دولت او مدني ټولنه باید خلک تشویق کړي تر څو د تصمیم نیونکو له پروسې څخه څارنه وکړي، بودجه په کلیوالی او ولسوالی کچه تعقیب کړي او د خدماتو له کیفیت څخه څارنه وکړي

## د رسنيز اړیکو لپاره

میرویس ناصري، د افغانستان د روڼتیا څار د اړیکو له افسر سره د mirwais.nasery@iwaweb.org ایمیل آدرس او یا 0785431054 شمیرې له لارې اړیکه ونیسی او یا زمونږ ویب سایت څخه کتنه وکړی.

## د سروې په اړه

دغه څلورمه دوه کلنه سروې، دافغانستان د روڼتیا څار اداري ( IWA ) لخوا د ۲۰۱۳ م.کال په اګست میاشتي کې تر سره او معلومات را ټولول يي پيل شول.سیمه ییزکار او د معلوماتو را ټولول يي د ۲۰۱۳ م.کال د نوامبر په میاشت کي بشپړ شو.په ټوله(مجموع) کې ۷۷۹۸ ځواب ور کوونکي(په برا بر شمېر نارینه او ښځینه) وو سره د هیواد په ګوټ ګوټ کې مرکې وشوې . ځواب ور کوونکي له ۳۴ولایتونو غوره شول. په هرولایت کې د ځواب ور کوونکو شمیر د همغه ولایت د نفوسو په تناسب غوره شو،خوپه ۱۹ ولایتونو کې په استثنايي او قصدي ډول تر ټاکل شوي نمونوي اندازې زیاتو کسانو سره مرکې وشوې. ددغه سروې د بشپړ رپوټ د ترلاسه کولو لپاه دې پاڼي ته ولاړ شی .www.iwaweb.org/ncs

## د افغانستان د روڼتیا څار په اړه

د افغانستان د روڼتیا د څار اداره (IWA) د ۲۰۰۵ کال په اکتوبر میاشت کې رامنځ ته شوه او په ۲۰۰۶ کال کې د مدني ټولنې د يوې خپلواکي اداري په توګه په کارپيل وکړ .موخه يي د روڼتیا ، حساب ور کونې او د فساد ضد مسلو کې دتجزيي ، تحلیل ، پوهاوي او درک د يوې مرجع په توګه را بره کیدل وو.

په افغانستان کې د روڼتیا د څار اداري ما موریت دادی چې، په افغانستان کې اداري فساد د روڼتیا اوحساب ور کونکې تر ذره بین لاندې ونیسي او دغه کار د څیړنو دتر سره کولو ، د روزنې د پروګرامونود پرمخ بیولو او پر پالیسیو د بحثونو دبرا برولو په مټ ترسره کوي .